# عقل

## گل پاچا الفت

ډېر لږ خلک دي، چې کله کله یو نیم کار د عقل په خوښه کوي.

نور ټول کارونه د مینې او محبت د پاره، د حسد او عناد د پاره، د حرس او هوس د پاره وي یا د کوم زورور په امر او د نادانۍ په فرمان اجرا کېږي. سره له دې چې د عقل برخه په ژوندانه کې ډېره لږه ده بیا هم هر څوک د عقل ستاینه کوي او د عقل دښمن هم عقل ښه ګڼي او بې عقلي نه خوښوي.

ښايي، چې عقل په همدغه سبب د هر چا خوښ وي، چې د چا په کار کې کار نه لري او د زورورو خوي په کې نشته.

عقل زموږ تابع دی او زموږ زړه ته ګوري هغسې مشوره راکوي، ځکه یې ستا یو او صفت یې کوو.

که عقل پر موږ باندې حاکم وای او اقتدار یې درلودای موږ به ترینه ډېر سرټکاوه او بد به مو ګاڼه، ځکه چې تر اوسه موږ له یوه حاکم نه هم زړه کې ډېر خوښ نه یو او ډېر ښه حاکم هم ډېر خلک له ځانه خوابدي کړي دي.

په رښتیا ، چې عقل غوندې بې ضرره شي نشته.

عقل هر کله زموږ خیر او ګټه راښیي او عقل د همدغه شي نوم دی. که موږ د عقل یوه خبره هم ونه منو بیا هم عقل رانه نه ځي او بد راسره نه کوي که موږ په ناکاره کار پسې په بده لاره روان شو عقل راسره ملګری دی او څومره، چې کېدای شي له خطر نه مو ساتي.

ډېرې غلاګانې د عقل په مرسته کېږي، که څه هم غلا ته په ښه نظر نه ګوري او غلا یې نه ده خوښه.

هغه شیطاني چلونه، چې انسان کشف کړي دي او شیطان هم ورته حیران دی د سادګانو او احمقانو کارنه دی.

فریب او ټګي سره له دې، چې سم او صحیح عقل ورته بد ګوري بیا هم د هوښیارۍ بد عمله اولاد دی او د بد سړي له عقل څخه دغه راز بد اولاد پیدا کېږي، همدغسې عقل یوه غله ته هم د تېښتې لاره ښیي هم یې د ماړه کاله ته بیایي او که حاکم ونیوه د ځان د خلاصولو چلونه هم ورښیي.

که سړی هرڅومره ګنهکار و عقل ورته د نجات لاره لټوي او له همدردۍ نه یې لاس نه اخلي. په رښتیا ، چې دومره مهربانه ملګری بل نشته.

هغه وخت، چې څوک عقل له ځانه شړي او په عقل هجوم وروړي باده او پیاله دی په لاس کې ورکوي او د مخه ورته لا یو داسې ځای پیدا کاندي، چې ډېر رسوا نشي او محتسب یې ګرېوان ته لاس وانچوي.

د عقل خوی او خصلت په هیچا کې نشته په زړه

کې حسد او عناد نلري، لکه ماشوم مرور کېږي، نه ظلم او نه يې ناروا خوښه ده، مګر له ظالم سره دښمني هم نه کوي، فسق او فجور ورته بد معلومېږي، خو د ذاهد په شان له فاسق او فاجر نه تښتي، هر چا ته د خېرخواه په نظرګوري او د انسان په مجبوريت ډېر ښه خبر دی.

عقل په دې خبره ډېر زور اچولی دی، چې انسان پخپلو کړو کې پوره ازادي او اختيار نلري او د مجبوريت جنبه يې ډېره غالبه ده.

هو ! عقل دا غواړي، چې د انسان له ضعف او ناتوانۍ نه يو داسې قوي دليل جوړ کړي، چې د هغه بل جهان له ملامتۍ نه يې هم خلاص کاندي.

عقل په دې پوهېږي، چې انسان د خپلو غرايزو او احساساتو تابع دی او منطق هر کله د خپلو اغراضو دپاره استعمالوي.

د انسان له منطقي تعريف څخه هم دا معلومېږي، چې دی اول حيوان او بيا عاقل دی، يعنې د ده نطق او عقل د حيوانيت تابع دی او حيواني غرايز يکې د اوليت حق لري.

دا يو منلی حقيقت دی، چې عقل زمونږ تابع دی، مونږ د عقل تابع نه يو.

عقل زمونږ دپاره پيدا شوی دی مونږ د عقل د پاره نه يو پيدا.

که مونږ په عقل باندې د ليونو او ماشومانو کار کوو، کوي يې او زمونږ له امر نه غاړه نه غړوي.

که زه او ته دوستان يو زما او ستا عقل هم دوستي کوي.

که مونږ غليمان شو زمونږ عقلونه يو له بل سره دښمني کوي او په جګړه اخته کېږي.

ښه عقل هماغه دی، چې د مينې او محبت په غېږ کې وده وکړي او د ښو عواطفو او احساساتو په لمن کې وروزل شي.

عقل د اخلاقو تابع دی، که اخلاق ښه و عقل ښه کېږي که اخلاق بد و عقل په بده لار روانېږي او بده لاره ښيي.

***

## غزل

**اباسين يوسفزی**

دلته کې قدر د بهار نه کېږي
په دې وطن کې مې روزګار نه کېږي
زه په خزان کې سره ګلونه غواړم
ستا پسرلو ته را نه وار نه کېږي
ماله بې تو له مينه راکړه اشنا
زما په لړه مينه کار نه کېږي
په مخ مې او ښکو لارې جوړې کړې
خو د قاتل په زړه کې لار نه کېږي
خدايه په خوب کې مې حضور کړې ورته
ګني زما نه خو اظهار نه کېږي
وخوره قسم د خپلې زنې په خال
ستا په ما ولې اعتبار نه کېږي
ليوني تل په محبت سميږي
قاضي ته وايه چې په دار نه کېږي
ربه زما هر يو ارمان پوره کړې
دومره بلا دې چې په شمار نه کېږي
ورو ورو به ځوو که هر څو لار ګرانه ده
بعضې کارونه په تلوار نه کېږي
اوس ناصحانو اخر ومنل چې
د اباسين په زړه کې لار نه کېږي